مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

محمد معصوم هوتک

۲۰۱۹/۰۸/۱۷

# د غازي امان الله خان په باب د کندهاري علماوو له خوا

## د تکفير فتوا حقيقت نه لري

په دې شپو او ورځو کې چې افغانان له انګرېزي استعمار څخه د خپلواکۍ اخيستلو د سلمې کاليزې نمانځلو ته تيارى نيسي، د نړيوالو رسنيو پر مخ باندې د غازي امان الله خان د شخصيت او کارنامو په باب موافق و مخالف نظرونه، مقالې او څېړنې خپرېږي چې هر سالم او بېغرضه نظر ته بايد درناوی وسي . غازي امان الله خان زموږ د تاريخ يوه ملي څېره ده چې د يوه انسان په توګه ئې هرومرو اشتباهګاني درلودې او په نظر او عمل کې ئې نيمګړتياوې هم وې .که دا نه واى، نو ولې به يو وطندوست، پر خپلواکۍ مين پاچا د څو تنو جاهلانو او لوټمارو په لاس له وطنه شړل کېداى او د هيواد د پرمختيا او آبادۍ له پاره به ئې ارمانونه له خاورو سره يو شان کېدلاى. ددغو اشتباهګاو او نيمګړتياوو يادونې زموږ د تاريخ څېړونکو پر خپل وخت و زمان کړې دي او د افغانستان د تاريخ ددغې روښانه دورې نقد ئې هيڅوخت له پامه نه دئ غورځولى. خو يو څه چې د اندېښنې وړ دي او زموږ ځوان او کله کله لا د پاخه عمر لرونکي ليکوال هغو ته زياته پاملرنه نه کوي، هغه د ځينو کلماتو او حکمونو ليکنه ده چې په ننني بې سر و بښکره مېډيا کې په پراخ لاس خپرېږي. په دې لړ کې پر غازي امان الله خان باندې د" کفر" او "الحاد" حکمونه کول دي او د هغو په سلسله کې د کندهار د علماوو له خوا د غازي امان الله خان د تکفير فتوا صادرېدل دي. زه په دې برخه کې د څه ليکلو حق ځکه ځان ته ورکوم، چې يو خو د کندهار يم، بل مې ددغې سيمې د تاريخ او سياسي و ادبي جرياناتو مطالعې ته تر خپله وسه پاملرنه کړې ده او دريم مې د اماني عصر له ډېرو کندهاريو معاصرينو سره د مخامخ پېژندګلوۍ وياړ لرلى دئ. په دې حاضره ليکنه کې غواړم پر امان الله باندې د کندهاريو علماوو له خوا د کفرکولو پر افتراء باندې تبصره وکړم د کندهار مشهور او په ټولنه کې منلي علماء له پېړيو راهيسې په دې ښار کې اوسېدلي دي، خاندانونه او کورنۍ ئې معلومې دي، د علم خانداني تسلسل ئې پاللى دئ او د چا خبره هسې له تړي څخه راغلي خلک نه ول. دوى چې د علم او پوهې په هره درجه کې ول، خو يو عادت په ټولو کې مشترک وو او هغه د شرعي احکامو په بيان کې له احتياط څخه کار اخيستل ول په تېره بيا د يوه کلمه ګويه چا په باب د کفر او له اسلام څخه د وتلو په مسئله کې خو ئې نهايت ډېر احتياط کاوه. زه به ئې دوه درې مثاله دلته راوړم.

له علامه حبيب الله کاکړ ( فاضل قندهاري) څخه چې په خلکو کې په"حبو اخندزاده" مشهور وو، د غزني د ملا محمد اعظم اندړ او يو شمېر نورو علماوو له خوا د کفر او اسلام د تميز او ځينو نورو شرعي احکامو په باب پوښتنې سوې وې. علامه مرحوم د کفر او اسلام د تميز په باب ورته يوه بشپړه رساله وليکله چې خطي نسخه ئې زما سره دلته په کاناډا کې هم سته. په دې رساله کې ئې ددغې مهمې او خطيرې مسئلې په باب دومره احتياط کړى دئ چې لوستونکى ورته حيران پاته سي. دى ليکي چې" ... غلط در ادخال هزار کافر در اسلام بهتر و آسانتر است از غلط در اخراج يک مسلمان از اسلام و ادخال او در کفر. .... اگر درينباب احتياط بکار نرود و بمجرد حصول ظن فى الجمله اکتفا افتد يکى را بگمان ارتداد که در حق ديگرى کند قتل وى مباح آيد و ديگرانرا نيز بگمانى قتل قاتل حلال نمايد و ايمعنى موجب حرج مرج و انحلال نظام معاش و معاد و فتح ابواب فتنه و فساد ميشود".

په اماني عصر کې صدراعظم عبدالقدوس خان اعتماد الدوله د مشروطه نظام په باب د کندهار له علماوو څخه د استفتاء غوښتنه وکړه. ددغې غوښتنې په ليکلى جواب کې ئې چې ويل کېږي اصل ئې د حضرت محمد معصوم مجددي په اسنادو کې خوندي دئ،د سلطنت پر اقسامو بحث کړى دئ او خلافت و پاچهي ئې تر نورو ډولونو غوره بللى دئ. خو د حقيقت التواريخ ليکوال ددغې فتوا پر څنګ دا هم زياتوي چې" ... با اين فتوا مشروطيت



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

را رد کردند، اما به قلع و قمع مشروطه خواهان فتوائی ندادند". ( حقیقت التواریخ ـ صـ ۳۸۹). دغه راز ئی د هیواد د قزلباشو په باب په فتوا کي وليکل :" مردم قزلباش به قبله نماز می خوانند، تلاوت قرآن می نمایند و کلمهٔ شهادت به زبان جاری می دارند، لهذا احکام ملت بیضا این است که این ها همه مسلمان و اهل ایمان و جایزالشهادت والنکاح میباشند ... و در حفظ ناموس و اموال فرقی بین ما و ایشان نیست"....
شهيد مولوي عبدالواسع قندهاري چي سقوي عُمالو په کابل کي د توپ تختي ته تاړه، تر شهادت وړاندي ورته کلکاني حبيب الله وويل چي " تا پر ما د کفر حکم کړئ دئ، نو څکه تا وژنم" مولوي په لوړ ږغ جواب ورکړ چي " استغفرالله! زه پر اهل قبله د کفر حکم نه کوم. مگر ته خو قاطع الطريق يې، بايد لاس و پښه دي شرعاً پرې سي". (د افغان ياد ـ د مقالو مجموعه ـ صـ ۸)
له دي فتواوو او ويناوو څخه په شرعي احکامو کي د کندهار د علماوو احتياط له ورايه ځرگنديږي. ددغه راز محتاطو علماوو له خوا به دداسي امير پر خلاف د کفر فتوا ځرنگه صادره سوي وي چي د همدغه امير په امامت ئي څو واره لمونځونه ادا کړي وي او واجب السمع خطبو ته ئي غوږ نيولی وي؟
د افتراوو مخه خو موږ نيولای نه سو، خو د حقايقو بيانول مو اخلاقي و ايماني دنده ده.
په افغانستان کي د غازي امان الله خان پر خلاف چي د کابل په شمال کي تخريبي فعاليتونه زيات سول او غازي امير کندهار ته ولاړ، هوري ئي د کندهار له مخورو او ديني عالمانو سره څو شپي او ورځي پرله پسي مجلسونه او مشورې وکړې. د کندهار خلک دده له ځينو کارونو سره موافق نه ول او خپله نارضائيتي ئي پټه هم نه کړه، خو د خپل غازي امير په ملاتړ کي ئي ځانونه و نه سپمول. په دغو مجلسو کي چي بيانونه ئي ما د هغه وخت د عيني شاهدانو له خولي اورېدلي دي، يوه ورځ د مبارکي خرقي د متوليانو يو تن عبدالحميد اخندزاده ورته وويل:" اعليحضرته! ښه پوهېږو چي داسي اور بل سوی دئ چي هم به ته پکښي وسوځې او هم به موږ . خو له ملاتړه دي لاس نه اخلو او تر مرگه پوري در سره ولاړ يو". د طلوع افغان اخبار ددغه وخت جريانات په منظمه توگه خپرول. ددغه اخبار د اتم کال په دوهمه گڼه کي د "اعلاميه مجلس اعيان قندهار" په نامه يوه اعلاميه د غازي امان الله خان په پلوی خپره سوه چي د مولوي عبدالواسع اخندزاده لاسليک هم پر وو. د اتم کال په دريـمـه گـڼـه (فوق العاده گڼه) کي د " فتوای علمای اعلام پشاور" په نامه د غازي امير په طرفداری په پښتو ژبه يوه فتوا خپره سوه. د اتم کال په اتمه گڼه کي د " فتوای علمای عظام" په نامه د کندهار د ښار او شش کروهي علماوو د امان الله خان په ملاتړ فتوا خپره کړه چي لاسليک کوونکي ئي هسي دتړي خلک نه ول، بلکي د سيمي منلي عالمان ول. ددغي فتوا په لاسليک کوونکو کي پر ځينو مخورو سربېره دغو لاندي علماوو هم د تائيد مهرونه لگولي او لاسليکونه ئي کړي ول:

**ـ محمد عبدالواسع اخندزاده کاکړ چي وروسته د کابل په سياه سنگ کي د سقاو په امر په توپ کي والوزول سو،**

**ـ جمال الدين اخندزاده ساکزی د کندهار د ساکزو کوڅي اوسېدونکی،**

**ـ ملا غلام عمر اخند زاده هوتک،**

**ـ ملا بهاؤالدين اخندزاده د ميرهزار جامع خطيب،**

**ـ ملا عبدالله قريش د ملا فرح الدين اخوند لمسی،**

**ـ عبدالحميد اخندزاده الکوزی د خرقي شريفي متولي،**

**ـ محمد علي صاحبزاده هوتک د ذاکر شريف له حضراتو څخه،**

**ـ عبدالودود صاحبزاده هوتک ( مشهور په تور اغا) د ذاکر شريف د عبدالباقي صاحبزاده زوی،**

**ـ ملا عبدالشکور بارکزی پخوانی قاضی القضاة،**

**ـ احمد جان الکوزی د شاه جامع خطيب،**

**ـ سيد محمد اسلم،**

**ـ غلام دستگير اخندزاده پوپلزی،**

**ـ عبدالقيوم اخندزاده اليزی د مرافعي قاضي،**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

**ـ ملا غلام محی الدین اخند،**

**ـ نظر محمد پوپلزی د ابتدائیه محکمي اول مفتي ( دا سږی د افغانستان د علومو اکاډمی د رئیسي ثریا پوپل نیکه وو)،**

**ـ محمد جان ساکزی د ابتدائیه محکمي مفتي،**

**ـ خواجه محمد هوتک د ابتدائیه محکمي قاضي،**

**ـ محمد محسن نورزی مشهور په قاضي محسن،**

**ـ جمعه خان مفتي،**

**ـ عبدالرزاق اخند زاده الکوزی،**

**ـ ملا عبدالحسین،**

**ـ ملا محمد نذیر،**

**ـ ملا صالح محمد کاکړ،**

**ـ ملا خیرمحمد اخندزاده مشهور په خیرو اخند زاده، د علي محمد اخندزاده توخي زوی،**

**ـ ملا عبدالله کاکړ د کالیزو کوڅي اوسېدونکی ( د ملا سعدا لله کتابفروش پلار)،**

**ـ شراف الدین اخندزاده لودین مدرس او مفسر،**

**ـ ملا نصرالدین.**

دغه لیست ما له طلوع افغان څخه تر رانقلولو وروسته تر ۱۹۸۰ع کال ترمخه د کابل په خیرخانه مېنه کي د ارواښاد عبدالهادي خان توخي تر نظر تېر کړ چي د ځینو کسانو په پېژندګلوي کي ئې مرسته را سره وکړه.
دغه ټول علماء د کندهار مشهور شخصیتونه ول چي په کورنیو کي ئې تر ننه لا هم د علم و فضل څراغ بلېږي خو په هغه پخواني برم و عظمت نه. ددغه شان فتوا لاسلیکوونکو به ولي د خپل محبوب القلوب ټولواک د کفر فتوا ورکوله؟
زه له خپلو ځوانو قلموالو څخه هیله کوم چي له تاریخي مسئلو سره دي د ورځي په نرخ چلند نه کوي. دا هیواد او دا اولس به حق تعالی پخپل فضل و کرم سره له دا ځلوبښت کلن ناورین څخه وژغوري. داسي نه سي چي هغه وخت بیا زموږ خپلي لیکني ، خدای مه کړه، زموږ د محکومیت سندونه سي.

**آشاوا ـ کاناډا**
**۱۶ د اګست ۲۰۱۹ع**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ